
مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هارون حکیمی

۲۰۲۵/۱۰/۱۲

# "له میرویس نیکه تر احمد شاه بابا" تاریخي کتاب خپور سو

دا د هیواد د نومیالي مورخ ښاغلي عبدالباري جهاني د نړدې نیمي پیړۍ د تاریخي څېړنو پر بنسټ لیکل سوی اثر دی چي په ۵۶۶ پاڼو کي پر لیکه سو.




د کتاب په درویشتو فصلونو کي د افغانستان او سیمي د اتلسمي پیړۍ مهمي پېښي په پرله پسي تفصیل او وضاحت بیان سویدي.

د صفوي واکمنی په وړاندي د خپلواکۍ د پاڅون، د افغانانو په لاس د صفوي امپراطورۍ د نسکورېدلو، پر افغانستان او ایران د هوتکو د واکمنۍ، د شاه محمود هوتک او شاه اشرف هوتک پر کارنامو، د نادر افشار د واک ته رسېدو، پر افغانستان او هند د هغه د یرغلونو، د نادر افشار په وړاندي د پښتنو قبیلو، هوتکو، ابدالیانو، ساپیانو، یوسفزو او نورو د مقاومت، د هغه په بریاوو او د هوتکو د واکمنی په پرځولو کي د پښتنو پر ونډه، د هغه د وژل کېدو او احمدشاه بابا د واک ته رسېدو او پاني پت تر تاریخي جګړي ټول حوادث او ګڼ شمېر نومورکي څېړي پکښي څېړل سویدي.

ښاغلي جهاني د هیواد او سیمي ددغه تاریخي بهیر څېړنه او شننه په خورا مستنده، بې پرې او مسلکي توګه کړې ده او ډېري هغه پوښتني یې حل کړي چي پخوانیو مورخینو یې جوابولو ته یا سرچیني نه لرلي او یا ارادي.

دا اثر دخپلواکۍ د بنسټ اېښودلو، ملت جوړوني او اوسني افغانستان د دولت جوړوني د برخلیک ټاکني پر مهمو ټکو د تمرکز ترڅنګ د حال او راتلونکي د سمون لپاره د تاریخي تجربو پر بنسټ، مهمي سپارښتني لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ښاغلي جهاني دا اثر اوسمهال د لولو ويبپاڼي څخه پېرل کېدلای سي او په نړدې راتلونکي کي به د لوی افغانستان په کتابپلورنځيو کي هم موندل کېږي.

د کتاب لينک:
https://www.lulu.com/shop/عبدالباري-جهاني/له-ميرويس-نيکه-تر-احمدشاه-بابا/paperback/product-e7d94jj.html?page=1&pageSize=4


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ